مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۰/۱۲/۰۷

# د ښوونځي دروازې ترړل

## او زده کوونکي ملا ته کښېنول،

### له معارف او ملا سره جفا ده

**د افغانستان په حکومتي تشکیل کې د پوهنې وزارت چې اصلي دنده او رسالت يې د وطن د اولادونو سالمه روزنه ده، د هېواد د دريو ټولګيو (۱ـ ۲ـ ۳) دروازې ترړي؛ خو دوه ورونه (ويسا ورونه) په يوازې ځان او خپل شخصي لګښت غواړي چې د ټول افغانستان ترړلي ښونځي پرانيزي او د وطن د اولادونو روزنې ته زمينه برابره کړي؛ نو تاسو ووايئ چې دا د عجايبو وطن دی که نه دی؟**

**زه به نه ليونی کېږم؟**

ميډيا هسې حکايت کا چې د افغانستان د معارف وزرارت پريکړه کړې ده چې:

«د افغانستان د پوهنې وزارت اعلان کړی، د دغه وزارت د نوې طرحې پر بنسټ به په يو شمېر لېرې پرتو سيمو کې د ښوونځيو له لومړي تر دريم ټولګي زده کوونکي په جوماتونو کې زدکړې وکړي.

د پوهنې وزرات په يوې اعلاميې کې ويلي ، جوماتونه هم د زده کړو په ايکو سيستم کې داخل شوي دي او دغه وزارت خپل جوړښت بدل کړی.

د دې چارې موخه زده کوونکو ته د اسانه زده کړو زمينه برابرول بلل شوي دي. د پوهنې وزارت دا هم وايي چې په جوماتونو کې به هم دغو زده کوونکو ته د پوهنې وزارت تعليمي نصاب له مخې لوست ورکول کېږي.

خو دا لا معلومه نه ده چې څه شمېر جوماتونه به ددې وړتيا يا ځای ولري چې له لومړي تر دريم ټولګي زده کوونکي زده کړې پکې وکولای شي...»

د پوهنې وزارت دا طرحه د افغانستان د ښکاره دوښمنانو هغو پرېکړو ته ورته ده چې په لسګونو ځلې يې له بېلابېلو لارو او افرادو نه په استفادې سره د افغانستان د تعليمي نصاب د بدلولو او په خپله خوښه برابرولو هڅې کړې دي.

يو ځل په دوزره دولسم کال (۲۰۱۲ ام) کې همداسې يوه هڅه شوې وه چې د همدې کال په سپتمبر کې ما يوه مقاله ورته وليکله. هلته مې دا ستونزه داسې تشريح کړې او د حللاره مې ورته ښوولې وه:

«د افغانستان درواني غميزې ترټولو زوروونکی او دردونکی اړخ، د وطن د نوي نسل د بيسواده پاتې کيدوغميزه ده. د تيارو د استازو او ټوپکيانو پاليسي، دښمني او دريځ خو له هماغه پيل نه له ښوونې روزنې، ښوونځي، ښوونکي، زده کونکي، کتاب او قلم سره ښکاره او بربنډه و. په افغانستان کې د ښوونيز سيستم په مقابل کې خنډونه رامنځته کول، د افغانستان او افغانانو د راتلونکې بنيادي او له ستې ورانول دي، او دا وارته د افغانانو او افغانستان اصلي دښمنانو، دې اساسي او بنيادي مسألې ته پام شوی او د افغانستان د موجوده واکمنۍ په مقابل کې د ولاړې ډلې د کړنو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له لارې يې غواړي چې پلي کړي .دا د افغانستان د موجوده واکمنی سره دښمني نه، بلکې د افغانستان او افغانانو سره بنيادي او اساسي دښمني ده، د افغانانو او د هغو له نوي نسل سره دښمني ده، د ښوونې روزنې او زدکړو او وړاندې تګ سره دښمني ده او په پای کې له بشريت او انسانيت سره دښمني ده. په دې وروستيو کې ميډيا د همدې ناړسا او غير انساني غړونو نه يوغږ ترغوړونو ورساوه. خبرونه خپاره شول چې د افغانستان د اوسني ــ روا يا نا رواــ نظام د مخالفينو يوې برخې د کوټې د شورا په مشرۍ د اتحاد علمای افغانستان؟ ډلې يوه اعلاميه خپره کړې او په ترڅ کې يې د افغانستان تعليمي نصاب غيراسلامي ګڼل شوی دی. په اعلاميه کې له افغانانو څخه غوښتل شوي دي چې خپل کوچنيان ښوونځي ته له تګ څخه منع کړي. د زياتو معلوماتو له پاره دا لينوکونه وګورئ:

http://8am.af/index.php?content&view=article&id=27302:1391-06-14-1

http://taand.com/index.php?mod=article&cat=taand2&article=35573

اوس د ښه معلم او بد ښوونکي خبره نه ده، اوس د کفري اواسلامي مضامينو مسأله مطرح نه ده، اوس چاره له غوښتې نه هڅوکي ته رسيدلي ده، اوس يې خبره داسې مخ کې درته ايښې ده چې ټول تعليمي نصاب دې کفري او غيراسلامي ګڼي او درته وايي چې که دې د کفر پر لوري يو ګام اوچت کړی و، سزا يې مرګ دی...»

دغه راز په دوه زره څوارلسم کال کې بي بي سي يو ريوټ خپور کړ چې د افغانستان په کندز ولايت کې ځينې داسې ديني مدرسې جوړې شوې دي چې يوازې د نجونو له پاره دي او ظاهراً هر څه يې د اسلامي شريعت له مخې ترسره کېږي، ما هغه وخت همدې مسأله پورې اړوند يوه اوږده مقاله وليکله چې د «د افغانستان ښوونيز نظام جامعة الصالحات، اشرف المدارس يا د نوي نسل...؟» سرليک مې ورته خوښ کړی و. د هغې مقالې په يوه برخه کې ما داسې ليکلي وو:

«په اسلام کې د راغلو اصولو له مخې، پرته له شکه چې اسلام د تشدد دين نه دی؛ خو کله چې دين له سياست سره غوټه کړای شي او له هغه نه سياسي موخو ته د رسيدو له پاره استفاده وشي، نو دين نه د سؤاستفادې زمينه برابرېږي، چې دا کار له بده مرغه اوس ښه په مزه روان دی او زموږ په هيواد افغانستان کې د ډيرو ډلو پاليسي همداسې ده. د افغانستان په کندوز ولايت کې د اشرف المدارس «-(جامعة الصالحات) په نامه د نجونو ښوونځۍ يا ديني مدرسه، د ښووني اوروزنې وزارت له اجازې پرته په جلا پروګرام سره زده کوونکي روزي، سپينه به يې وايو پايله يې بنسټ پالنه او ځان وژنه ده. همدا اوس دا لړۍ د بهرنيو کړيو د اهدافو د ترسره کولو له پاره د خامو موادو د توليد د يوې فابريکې حيثيت لري...»

يو ځل هڅه وشوه چې زه (آصف بهاند) هم د پوهنې وزارت د نوي تعلمي نصاب په جوړولو او ليکلو کې برخه واخلم، کيسه يې اوږده ده خلاصه زما ورتګ ونه شو، چې وروسته ما يو مقاله پرې وليکله. د هغې مقالې په ترڅ کې ما د نوی جوړ کړای شوي او چاپ شوي نصاب کتابونو ته د کتنې په ترڅ کې د نصاب د نيمګړتياوو په باب داسې ليکلي وو:

«بيا کله چې د همدې نوی نصاب کتابونه د ښوونې روزنې وزارت په ويبسايت کې آنلاين کړای شول، ما له لومړي ټولګي نيولې، بيا تر دولسم ټولګي پورې، پښتو او دري دواړه برخې، له لينکونو سره کاپي او له ځان سره خونديي کړل. د هر ټولګي د مضامينو لست مې له نظره تير کړ. ځينې مضامين چې زما له مسلک سره تړاو درلود، خلاص مې کړل او ټول کتابونه مې ولوستل، او ځينې مضامين چې ما ته په زړه پورې وو، هغه مې هم وليدل. د هر صنف نصاب دومره په عقيدتي رنګ رنګول شوی دی چې که زده کونکي افراطي او ځانمرګي هم نه وي، له دې عقيدتي رنګونو سره به په آسانی د افراطيونو ليکو ته منډې وروهي...»

دې پاسنيو ترخو تجربو ته په کتو سره که کوچنيان د پوهنې وزارت د طرحې له مخې درې کاله په جومات کې له ملا سره تېر کړي، د دې زدکونکو پايله به څه وي؟

د دې ټولو  تجربو پايله دا ده چې اوسنيو ستونزو او د پوهنې وزارت د طرحې په نظر کې نيولو سره، که دا طرحه عملي کړای شي او په جومات کې د ملا ترڅنګ ځينې نور ورانګاري هم موجود وي، په دريو کلونو کې د کوچنيانو سپين ماغزه او د حافظې چيپ به له څه ډول موادو ډک شي؟ **آيا دا به د مخالفينو د راتلونکو جنګي افرادو يو زېرمه نه وي؟**

زما (آصف بهاند) ټول عمر په ښوونځي او پوهنځي کې په زدکړو او تدريس کې تېر شويدی:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

ـ په کور کې مور پلار او مشران ورونه،

ـ په ښوونځي کې عالم او درانه ښوونکي او د ښوونځي ځانګړی چاپېریال او ګڼ نور زده کونکي،

ـ په پوهنتون کې د لوړو زدکړو لرونکي دانشمند استادان، له هر ولایت څخه راغلي محصلین، د پوهنتون غني کتابتون او ځانګړی پوهنتوني چاپېریال.

او هغه وخته چې د ټوپکي رژیم له بده شګومه، له پوهنتوني چاپېریال څخه محروم کړای شوم، خپله په مطالعه او علمي مسایلو پسې یم او خپل تخلیقي او څېړنیز کار ته مې دوام ورکړی دی چې پایله یې د ګڼو کتابونو تالیف او د سلهاوو مقالو لیکل او خپرول دي.

http://www.afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

نو په دې ډول زه خان د افغانستان د لویې علمي کورنۍ غړي ګڼم او خپل مسؤلیت ګڼم چې د معارف وزارت د وروستی پرېکړې په مقابل کې په کلکه ودرېږم او په ډاګه ووایم چې دا طرحه یوه غیر علمي او غیر عملي داسي طرحه ده چې نه یوازې دا چې ګټه نه لري، بلکې په خپله حکومت، ټولنې او کورنیو ته بېشمېره ستونزې رامنځته کوي او له فکري پلوه د څو نسلونو د بربادۍ مقدمه ګڼل کېږي. د دریو کلونو له پاره (لومړي، دویم او دریم ټولګي) کوچنیان د زدکړو له پاره جوماتو ته لېږل له هره اړخه یو غیر قانوني کار دی. جومات د خدای کور دی او د خدای د عبادت له پاره دی، نه دا چې په سلګونه او زرګونه کوچنیان دې هلته ښکته پورته شي، یو ملا نه شي کولای چې دومره ګڼشمېر کوچنیانو ته څه ورزدکړي او اداره یې کړي او...

**د هېواد افغانستان په حکومتي تشکیل کې لوی وزارت (د پوهنې وزارت) چې اصلي دنده او رسالت یې د وطن د اولادونو سالمه روزنه ده، د هېواد د دریو ټولګیو (۱ــ ۲ــ ۳) دروازې تړي؛ خو دوه ورونه (ویسا ورونه) په یوازې ځان او خپل شخصي لګښت غواړي چې د ټول افغانستان ترلې ښوونځي پرانیزي او د وطن د اولادونو روزنې ته زمینه برابره کړي؛ نو تاسو ووایئ چې دا د عجایبو وطن دی که نه دی، زه به نه لیونی کېږم؟**

تجربو ښودلې ده چې وروسته د ټوپکي رژیم له راتلو نه زموږ په ټولنه کې ځیني ملایان د دې پر ځای چې خلکو ته دیني لارښووني وکړي، دوی د پردیو په اشارو او پلان سره، په سیاسي او نظامي لارښوونو بوخت دي، دوی ورانونکي لارښوني کړې او کوي یې، د زرګونو خلکو او وطن د تباهی سبب شوي دي، په تېره د نوی نسل د بربادۍ اصلي لامل همدا خلک او همدا پلانونه دي. دوی غواړي چې د نیابتي جګړې د جنګیالیو روزنه له همدې ځایه پیل کړي.

ټوپک او ټوپکیانو د خپلې ناپوهۍ له مخې او د بهرنیانو په لارښوونه ډېر څه وکړل، ډېرې چپه مېچنې یې پر خلکو وګرځولې؛ خو دا نسل چې اوس له دوی سره مخ دی، دا نه هغه پخوانی فکر لري او نه هغه پخواني وختونه دي، د پوهنې وزارت د طرحې له خپرېدو سره سم د ټولنې بادرګه او چیز فهمه وګړو د دې طرحې په مقابل کې خپل غږ اوچت کړ او ټولو دا وښوده چې دا طرحه غیر قانوني او غیر عملي طرحه ده او ترشا یې له بل هدف سره، بل څوک ولاړ دي.

کله چې د دې طرحې په مقابل کې د خلکو غبرګونونه ډېر او جدي شول، د پوهنې وزارت یو څه پېښه سسته کړه او خپل لحن ته یې د بېلابېلو پیامونو په استولو سره د دفاعیې په دود بدلون ورکړ.

د دې طرحې د دفاع په برخه کې د پوهنې وزارت ویلي دي چې:

«... دغه وزارت غواړي، پر ښوونځیو د درسونو بوج یا فشار کم کړي، ځکه خو یې وړاندیز کړی، چې له لومړي تر دریم ټولګي زده کوونکي به په خپلو ځایي جوماتونو کې زده کړې کوي ...»

په یو بل خبر کې داسې راغلي دي چې:

«تر نیوکو وروسته د پوهنې وزارت مسوولینو وویل، چې دا طرحه یوازې هغو لرو پرتو سیمو ته ځانګړې شوې، چې هلته د ښوونځیو ودانۍ او یا هم هېڅ ښوونځي نشته، خو په ترلاسه شوي اصلي طرحه کې چې اته مخه ده، د لرو پرتو سیمو په اړه څه نه‌دي ویل شوي او طرحه د ټول افغانستان لپاره ډیزاین شوې ده.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دي موضوع پورې اړوند اوس د پوهنې وزارت يا د ځان غولوني او يا د پښې ايستلو د تکتيک په حساب ويلي دي چې:

«در رابطه با چگونگی مدیریت و نظارت بر مساجدی که قرار است برای آموزش اطفال ( که دسترسی به مکاتب ندارند) استفاده شوند ، آرین اعلام کرد که در این مساجد، نه علمای دین، بل معلمان تدریس خواهند کرد که در استخدام یا قرارداد وزرات معارف هستند و نصابی را ارایه می‌دهند که در سایر مکاتب ارایه می‌شود»

که د پوهنې وزارت دا طرحه تطبيق شي، دوی اصلاً د هغو افراطي مذهبي ډلو کار اسانه کوي، چې اوس عملاً د دولت پر ضد وسواله جګړه کوي، هغوي په اسانی سره کولای شي د دې زدکونکو له ډلې نه ډيری دې ته قانع کړي چې د دوی له پاره د نيابتي جګړې په ليکو کې، د دين د دفاع په نامه وسله واخلي او د خپلو خلکو او وطن په بربادی کې ونډه واخلي.

**د پوهنې وزارت طرحه او د خلکو غبرګونونه:**

استاد ډاکتر محمد تنها خپل نظر داسي څرګند کړی دی:

«له غربه راغلي ټاميان خپل اولادونه په وړکتونونو، پارکونو، موزيمونو، ژوبڼونو او نورو تفريحي ځايونو کې را لويوي خو د افغان بچي ته بيا د يوه خيرن ملا تر لښتي لاندې ژوند غوره بولي. ټاميانو د دې هيواد او ټولنې بُنيادي ړنګولو پسي راخيستي.»

د فيسبوک يو کارن يونس نګاه په دري ژبه عجبه طنز ډوله ليکنه کړې ده چې د موضوع حق يې ډېر ښه ادا کړی دی:

«یک ملای هشیار امروز بعد از اعلان وزارت معارف به وزیر مشوره داده است که این کار شدنی نیست. وزیر پرسیده چطور؟
ملا گفته: مسجد چوکی و میز ندارد.
وزیر گفته: خیر است، بیشتر مکاتب هم چوکی و میز ندارند.
ملا گفته: مسجد تخته و تباشیر ندارد.
وزیر گفته: خیر است بی‌تخته و تباشیر درس بخوانند.
ملا گفته: وزیر صاحب بیشتر مساجد فقط یک سالون کلان دارند. مثل مکتب صنف‌های جداگانه ندارند.
وزیر گفته: خیر است سالون مسجد را پارتیشن کنند.
ملا گفته: وزیر صاحب اگر پارتیشن کنند، جای نماز جماعت خراب می‌شود.
وزیر گفته: دیگر چه چیز در مسجد کمبود است؟
ملا گفته: وزیر صاحب در مسجد فقط یک نفر ملا است. آنجا مثل مکتب چندین معلم نیستند که صنف اول، دوم و سوم را جداجدا تدریس کنند.
وزیر گفته: خیر است سر ملا و مدیر مسجد، ملا را همکاری کنند.
ملا گفته: مسجد سر ملا و مدیر ندارد وزیر صاحب.
وزیر پرسیده: مامور اداری دارد؟
ملا گفته: نی وزیر صاحب ندارد.
وزیر گفته: چی حال است ملا صاحب! چوکی ندارد، صنف ندارد، سرملا ندارد، مامور ندارد، مدیر ندارد. کاش یک نفر این گپ‌ها را وقتتر برایم می‌گفت. صفاکار چطور، دارد؟
ملا گفته: نی وزیر صاحب صفاکار ندارد. بیشتر مساجد وضوخانه هم ندارند.
وزیر گفته: اووف، مه چی می‌شنوم!
ملا گفته: خیر باشد وزیر صاحب. این تصمیم شما بی‌فایده نبود. حداقل معلوماتتان درمورد مسجد زیاد شد.»

د لته د افغانستان د نوي نسل د روزلو د يو خواخوږي او د پوهنې برخي فعال ډاکتر محب زغم همدا نن د **«ملا د معلم پر ځای؟!»** ترسرليک لاندې ليکنه کړې ده، اوس د ډاکتر صاحب زغم خبرو ته تم کېږو چې د پوهنې وزارت د دې طرحې ناسموالی ثابتوي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«د پوهنې وزارت جوماتونه په خپل تعلیمي ایکو سیستم کې شامل کړي، چې د هغو پر بنسټ د ۳-۱ ټولګیو ټول زده‌کوونکي به خپل تعلیمات په خپلو محلي جوماتونو کې ترسره کوي. د زده‌کړې په دریو لومړنیو کلنو کې، جومات ته تګ به یو پیاوړی اسلامي هویت روښانه او څرګند شي.»

دا هېښوونکی خبر د ۱۳۹۹ د لیندۍ په ۱۶ نېټه د پوهنې وزارت پر فیسبوک پاڼه خپور شو.

## په دې اړه څو ټکو ته باید پام وکړو:

۱. دا دوره د رسمي زده‌کړو د پیل او خورا حساسه دوره ده، ځکه چې ماشومان په لومړي ځل له خپلې کورنۍ به غیر په بله اجتماع کې ګډېږي. نوی محیط باید دوی ته د خوندیتوب، ډاډ او صمیمیت احساس ورکړي. همدا وجه ده، چې د لومړۍ دورې معلمان/ معلماني باید خورا مهربان/ مهرباني وي. له بلې خوا هڅه باید وشي، چې د دې دورې تدریس مېرمنو، هغه هم د پاخه عمر مېرمنو ته وسپارل شي، چې د ځوانۍ له احساساتي عمره تېرې او د پخوالي عقلاني عمر ته رسېدلې وي. پخې مېرمنې چې په‌خپله اولادونه لري، له ماشومانو سره په سلوک تر نورو ښې پوهېږي، خو که ماشومان په جوماتونو کې دا دوره پیل کړي، لومړی خو ملایان ټول نارینه دي او معمولاً نه پوهېږي، چې له ماشومانو سره څنګه چلند وکړي. ماشومان به هلته د خوندیتوب پر ځای د ناخوندیتوب او د ډاډ پر ځای د وېرې احساس وکړي، ځکه له بده مرغه زموږ اکثره ملایان سخت زړي دي. له دوی سره د مدرسې د ویلو پر مهال خشونت شوی وي. دوی په وهلو ډبولو درسونه زده‌کړي وي او معمولاً په خوارۍ سره یې ژوند کړی وي. وتلی ارواپوه آلفرد آدلر باور لري، چې کله له ماشومانو سره پر له پسې تشدد کېږي، دوی د حقارت په عقدې اخته کېږي او بیا همدا ماشومان چې لوی شي، په لاشعوري ډول خپل غچ له نورو ماشومانو او تر لاس لاندې کسانو څخه اخلي. هر څوک چې جومات ته د سبق ویلو لپاره تللی وي، د ملایانو تشدد او خشونت به یې لیدلی وي.

۲. سره له دې چې ښوونکي/ ښوونکې دوه یا څلور کاله د معلمی مسلکي زده‌کړې کوي او د تدریس اصول، اروا‌پوهنه، پیداګوژي او نور ضروري مضمونونه لولي، خو بیا هم ځینې یې څنګه چې باید وي، هغسې سم تدریس نه شي کولی؛ نو ملایان چې په دې موضوعاتو هډو خبر هم نه دي، څنګه تدریس به وکړي؟

۳. ملایانو هر څه حفظ کړي دي، ځکه چې په مدرسو کې د درسونو د یادولو یوازینۍ میتود همدا حفظ کول دي، حال دا چې د افغانستان نوی تعلیمي نصاب قابلیت محوره نصاب دی. په دې ډول نصاب کې هڅه کېږي، چې شاګردان مختلف مضموني او د ژوند قابلیتونه زده کړي. قابلیت د پوهې، مهارت او ذهنیت تلفیق دی. که ملایان دا نصاب تطبیق کړي، شاګردان به مجبوره کړي، چې هر څه د طوطي غوندې حفظ کړي، خو هېڅ قابلیت حاصل نه کړي.

۴. د نوي نصاب کتابونه په نوي سیستم لیکل شوي دي، چې دغه برخې په کې شاملې دي: غږپوهنه (د توروو او غږونو رابطه او د کلمو هجا)، روان لوستل، د مفهوم درک کول، د شاګردانو له پخوانۍ پوهې او تجربې سره د نویو موضوعاتو رابطه، د شاګردانو د تفکر او تخیل وده، اجتماعي عاطفي زده‌کړه ... په اجتماعي عاطفي زده‌کړه کې شاګردان باید زده کړي، چې څنګه خپل احساسات او عواطف وپېژني، په عواملو یې وپوهېږي، د کنټرولولو لارې چارې یې زده کړي، د نورو احساساتو ته درناوی وکړي، د شخړو منطقي او سوله‌ییز حل زده کړي، ځان ته موخې وټاکي، موخو ته د رسېدو لپاره پلان جوړ کړي او د پلان د عملي کولو لپاره استقامت او هوډ ولري. دا هغه څه دي ان زموږ اکثره مسلکي معلمان یې هم په تدریسولو سم نه پوهېږي او کافي روزنې ته اړتیا لري.که وغواړو چې ملایان د دې کار جوګه کړو، کلونه کلونه ورته په کار دي چې پر دې موضوعاتو سر خلاص کړي، هغه هم که وغواړي چې زده یې کړي.

۵. په نوي نصاب کې د مضموني قابلیتونو تر څنګ، شاګردانو ته د ژوند قابلیتونه باید ورکړل شي. د افغانستان د ټولنې د خاصو ضرورتونو او د نورو ټولنو بریالیو تجربو ته په کتلو سره، د نوي تعلیمي نصاب لپاره لاندې قابلیتونه غوره شوي دي: (۱) جامع سواد، (۲) ځاني مدیریت، (۳) نقادانه تفکر، (۴) نوښت او خلاقیت، (۵) د ستونزې حل، (۶) مفاهمه، (۷) همکاري، (۸) د څنګه زده کولو زده‌کړه، (۹) معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژي. دا قابلیتونه د مختلفو درسي فعالیتونو له لارې په شاګردانو کې وده کوي. ملایان په دې مفاهیمو نه پوهېږي او د درسي فعالیتونو تطبیقول به ورته ډېر ګران وي. له بلې خوا په دې منځ کې ځینې داسې قابلیتونه هم شته، چې ملا کرد سره ورسره جوړ نه دی، لکه نقادانه تفکر، نوښت او خلاقیت ځکه چې که خلک نقادانه تفکر ولري، ملا خپل شخصي باور یا د یو چا نظر د اسلام د نظر په نامه ورباندې نه شي منلی. څوک چې نقادانه فکر وکړي، د هرې خبرې دلیل او ثبوت غواړي، دا د ملایانو ښېخې نه خوښېږي. همدارنګه ملایان داسې روزل شوي دي چې نوښت او خلاقیت نه پېژني. دوی ته ښه شاګرد هماغه وي، چې یوازې د بګی آس وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۶. زموږ اکثره منبرونه د سخت دریځو او بنسټپالو په ولکه کې دي. وجه یې دا ده، چې د جهاد په کلونو کې اکثره مدرسې د ترهګرۍ په روزنځایونو بدلې شوې وې او د ملایانو اوسنی نسل په همدې مدرسو کې روزل شوی دي. که د جوماتونو د جمعې د ورځو خطبې واورو، را معلومیږي چې څومره ملایان او خطیبان مو بنسټپالي دي. دوی ته وطن معنا نه لري او که یو نیم وطنپال په کې پیدا شي، وژل کیږي. نو که د ماشومانو د روزلو دنده دوی ته وسپارو، راتلونکی نسل به مو د منځنیو پیړیو په مفکورو سمبال وي، چې د تمدن هر مظهر به ورته کفر ښکاري.

۷. ملایان ځان ته په قدسي درجه قایل دي او ځان تر نقد او نظارت پورته ګڼي. دوی خلکو ته داسې مفکوره ور القأ کړې ده، چې پر ملا نیوکه پر دین نیوکه ده، نو څوک به دومره زړور وي، چې دوی وڅاري، د تدریس بڼه یې وګوري، نیمګړتیاوې یې په ګوته کړي او د اصلاح لپاره یې مشورې ورکړي؟»

د دې غیر قانوني او غیر عملي طرحې په مقابل کې د د روڼ اندو غبرګون ته چې زه ګورم، ښايي چې د پوهنې وزارت له له موضوع څخه ښټ ته شي او د ځينو غوړو خبرو په وړاندې کولو سره يې د هېرولو هڅه وکړي، خو د ټولنې د چیزفهمه خلکو باید دا په یاد وي چې د افغانستان د خلکو او پرمختګ دوښمنان تل په سنګر کې ناست دي او زموږ د ټولنې له نیمګړتیاوو او د ځينو پلورل شوو عناصرو نه په استفادې سره تل هڅه کوي چې زموږ د هېواد د پرمختګ مخه ډب کړي او د نوي نسل د بربادۍ زمینه برابره کړي

زما له نظره تر څو چې د یوې ټولنې نوی نسل، په نوي او عصري بڼه ونه روزل شي، د هغې ټولنې او هغو خلکو ژوند به همداسې وي لکه زموږ د ټولنې او خلکو روان ژوند.

ما څو ځلې د خپلو مقالو په ترڅ کې په په ټینګار سره ویلي دي:

د هغو خلکو او قوم تباهي ډېره نږدې ده چې له سواد، کتاب، مطالعې، تعلیم، ښونځي او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

نوره مو خوښه!

ښايي زه به تیروتی یم.

**«زما مینې زما ځانه**

**ښایسته افـغـانسـتـانـه»**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ